مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۲/۲۸

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### دولسمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب ځو پرله پسي لیکني خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نیستي کي مي دا څېړنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات وویني، د مهربانی له مخي دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

## څلرم فصل

### په کندهار کي د پښیني ساداتو نور مشاهیر

**سید اختر اغا (رح):**

سید اختر اغا د سید عبدالعزیز اغا زوی او د قلعۀ عبدالله د مشهور ملابرت نیکه لمسی دئ. سید اختر اغاد پښین د اسماعیل زیو ساداتو څخه دئ. په پښین کي د اسماعیلزیو ساداتو کلی شنغری نومېږي.
د سید اختر اغا زیارت د کندهار د ارغنداو په لنګر کلي کي مشهور دئ او عام و خاص ورځي. قبر ئي شنخته نه لري.د معاصرینو له خولو ئي د کرامات او خوارقو روایتونه اورېدل سوي دي. په طریقت کي د قادریه طریقي پیرو او د ارشاد پر ګدی ناست وو.
د سید شمس الدین اغا، سید غلام محی الدین اغا، سید قمرالدین اغا او سید امیرالدین اغا په نومو ئي څلور زامن پاته سوي دي. (۱۲۲)

**سید ابدال اغا (رح):**

سید ابدال اغا د لوی احمد شاه بابا د سلطنت پر مهال په پښین کي اوسېد. پلار ئي سید اختر اغا نومېد. کله بابا د کندهار ښار د ودانولو اراده وکړه، د تاداو ایښوولو په مراسمو کي ئي د ښار پر عالمانو،مخورو، متنفذینو او عالي رتبه کسانو سربېره له پښین څخه د سید ابدال اغاراوستلو ته خپل لوی وزیر شاولي خان بامیزی ور ولېږه. سید ابدال اغا په لومړي سر کي عذر وغوښت خو د شاولیخان تر مکررو غوښتنو وروسته په راتګ راضي سو او د ښار د تاداو ایښوولو په دغو ویاړلو مراسمو کي ئي ګدون وکړ او پخپل مبارک لاس ئي څو تیري کښېښوولې .د تاداو تر ډېري ایښوولو وروسته ئي په کندهار کي د اوسېدلو غوښتنه هم ځني وکړه چي دا غوښتنه ئي هم ومنله. لوی احمد شاه بابا د ښار د بامیزو کوڅي په لویدیځه خوله ورته کور ورکړ چي تر اوسه (۱۳۹۹ش) لا هم ولاړ دئ. په دغه کور کي سید ابدال اغا او ورور ئي سید سیدال اغا اوسېدل او د کور څنګ ته ئي یو مسجد هم ودان کړ . دا مسجد په ۱۳۲۵ هـ ق کي د سید ابدال اغا د لمسي میر محسن اغا په لاس له سره ودان سو. په هغه ډېره کي چي ددغه مسجد د بیا ترمیمولو په مناسبت اوس هم د مسجد په یوه دېوال کي ښخه پاته ده، داسي لیکل سوي دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

**"سید میر محسن القندهاری عفی الله عنه:**

چون سال جلوس پادشاهی ماضی احمد شاه درانی رسید در سنه ۱۱۷۴ بنای ... قندهار نمود ... جناب سیادت و فضیلت مآب منبع علوم روحانی، مجمع فیوض سبحانی مولانا سید سیدال و برادر او سید ابدال اقا ... از پشنگ بجهة وضع خشت شهر قندهار طلب نمودند بعده مأمور سکونت قندهار گردیدند و این مسجد را ساختند. بمرور ... گردیده بود... در سنه ۱۳۲۵ از سر نو تعمیر و آباد گردید." (۱۲۳)

دا مسجد اوس د سید محسن اغا په نامه یادېږي.

علامه رشاد کبنلي دي چي د سید ابدال اغا " قبر تر توپخاني دروازې د باندي، د عسکري فرقي پر لار دپخواني (حوض انبار) او اوسني شپږ شهیدان پر برابري، د سړک پر جنوبي پلو، د سلو قدمو په فاصله ليري واقع دئ."(۱۲۴)



د سید محسن اغا د مسجد اوسنۍ‌بڼه (۱۳۹۹ش)



د سید محسن اغا د مسجد د مدخل دروازه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

## سید طوطي اغا (رح):

سید طوطي اغا د پښین له ساداتو څخه دئ. د کندهار ښار ختیځ ته د ده خوجې په کلي کي اوسېد. د ژوند زمانه ئي د امیر شیرعلیخان د پاچهی کلونه ول. سید طوطي اغا ډېر وخت په بغداد کي هم تېر کړی وو او هوري د قادریه طریقي د ارشاد اذن د ګیلاني خاندان له یوه مرشد څخه اخیستی وو. د ارشاد تر اذن وروسته بېرته کندهار ته راغی او د خپل وخت د قادریه طریقي په لویو مرشدانو کي ګڼل کېده. وفات ئي په ۱۳۰۰هـ ق = ۱۲۶۱ش پېښ او د طالبانو هدیري په لویدیځه خوا کي ښخ دئ. زیارت ته ئي ډېر خلک ورځي. (۱۲۵)
ارواښاد محمد زلمي لیکلي دي: "سید طوطي اغا ډېر متقي او له بدو څخه بېزار سید وو. تل به ئي د خدای او رسول نومونه په خوله کي وه. بشاش او نوراني سړی وو. خلکو به له ده د نېکی مدد غوښت ، ده به په عجز او الحاح ورته ویله چي زه څه نه یم خدای ته رجوع وکړئ. د سید طوطي پر ګفتار خلکو زیاته عقیده درلوده. (۱۲۶)"

## سید عبدالحمید اغا (رح):

سید عبدالحمید اغا د سید ابدال اغا زوی او د سید اختر اغا لمسی وو. د شرعي علومو لوی استاد وو او په سلوک کي له ملامتیه وو څخه وو. وفات ئي په ۱۲۴۲هـ ق کي پېښ دئ.

لمسي ئي سیدمحسن اغا دده په باب ویلي دي:

| | |
|---|---|
| **څورلس علمه ئي په یاد وو** | **قندهار په ده آباد وو** |
| **د خپل عصر غزالي وو** | **په حکمت کبني فاریابي وو** |
| **کل علوم ئې مستهظر وو** | **پر فلک د عرفان نمر وو** |
| **روځ ئي ټول کار د تدریس وو** | **د جوهر په دود نفیس وو** |
| **درسته شپه ئي کار عرفان وو** | **هم به ورک پر لوی بیابان وو** |
| **زر دوه سوه د هجرت وو** | **دوځلوېښت پر زیادت وو** |
| **په جوار کبني د رحمان شه** | **د جنت پر لور روان شه (۱۲۷)** |

## سید عبدالرحیم اغا (رح):

د سید عبدالحمید اغا (رح) څلور زامن پاته سوي دي. سید عبدالرحیم اغا ئي دریم زوی وو خو دده پر مستند ناست زوی همدی وو. په رحیم جان اغا سره ئي شهرت درلود. سید عبدالرحیم اغا په شریعت کي لوی مدرس او په طریقت لوی ممهد وو. په ۱۳۰۲هـ ق کال د ذی الحججي پر اوومه وفات سوی دئ. قبر ئي پخپله پلرنی هدیره کي چي اوس د سیدمحسن اغا د هدیري (۱۲۸) په نامه یادیږي، معلوم دئ. پر شنخته ئي کښلي دي:
"وفات عالم عادل، عارف کامل، زمرهٔ ملوک، مرشد ارباب سلوک، مدرس علوم شریعت و حکمت و مُمهِد قواعد سعادت و سیادت، اشرف اولاد ابوتراب، اکرم احفاد جناب مستطاب، سیدالسادات العظام، رئیس فضلاء کرام مفتاح مفاتیح غیب، فاتح خزائن الادیب و کان اسرار عرفان مولانا سید عبدالرحیم جان..." (۱۲۹)
سید محسن اغا د ده زوی وو.
د امیر شیرعلیخان په مُهر د ۱۲۹۱هـ کال یو فرمان په کندهار کي سته چي د سید عبدالرحیم په نامه صادر سوی دئ. علامه حبیبي صاحب دغه سید عبدالرحیم د "غالباً" په قید سره د سید نورمحمد شاه په وراره ګانو کي ګڼلی دئ خو د سید محسن اغا په مزارات کي دده د پلار سیدعبدالرحیم اغا په باب له تشریح و تفصیل څخه زه ویلای سم چي دا شخص د سید محسن اغا پلار دئ .
د فرمان نقل کټ مټ داسي دئ (۱۳۰):

د فرمان پر تندي:

مهر مربع ۳ سانتی ۳ میلی × ۳ سانتی.

هوالغالب (۱۳۱)

ابوالفتح معین الدین امیر شیر علی خان بهادر ۱۲۸۹(۱۳۲)

فرمان اشرف اقدس اعلی شد آنکه: عالیجاه فتح محمد خان (۱۳۳) و حکام و عمال محال احمدشاهی بالطاف موفوره امیدار بوده بدانند، که در خصوص وظیفه سیادت پناه سید عبدالرحیم خان که در سنوات گذشته مبلغ سه تومان تبریزی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ

نقد و مقدار سه خروار تبریزی گندم از بابت (؟) قریه جات مقرری داشت، حال از حضور فیض گنجور مبلغ سه تومان تبریزی نقد و مقدار چهل خروار تبریزی گندم مقرر گردیده، که همه ساله برای سیادت پناه موصوف برسانند، و دو ساله سابقهٔ مشارالیه را هرگاه رسانیده باشند فهوالمراد، و هرگاه نرسانیده باشند مبلغ و مقدار مذکور را رسانیده، رسید از مشارالیه باز یافت نموده و ارسال حضور معدلت دستور نمایند.
و همین فرمان نامچه اعلی قدر را ثبت دفتر نموده و فرمان نامه را تسلیم خود او نمائید، که دست آویز همه سالهٔ او باشد، زیاده در اینباب چه قلمی شود فقط فی تحریر یوم پنجشنبه سلخ شهر جمادی الثانی سنه ۱۲۹۱.
ددغه فرمان پر شا څلور مُهرونه سته . په دې ډول:

**اول:** لوی څلورکونجه مُهر دو نیم سانتی × دونیم سانتی.
لوی تول مختار سید نورمحمدشاه (۱۳۴)
المستعین ۱۲۹۰ الراجی
صدراعظم دولت افغانستان

**دوهم:** مهر مربع ۱سانتی × ۱سانتی: مستوفی الممالک ۱۲۹۰(۱۳۵) .

**دریم:** مهر مستطیل یو سانتی × یو نیم سانتی: لوکشل دبیر الملک ۱۲۹۱(۱۳۶) .

**څلرم:** مهر بیضوی کوچنی : محمدیاقوت(؟) ۱۲۵۹ (۱۳۷) .

## سید عبدالعزیز اغا(رح):

سید عبدالعزیز اغا د کشف و کرامت څښتن سید برت نیکه (۱۳۸) زوی دئ د "کندهار زیارتونه" کتاب په ۱۲۹ مخ کې کښلي دي چې د سید عبدالعزیز اغا اصلي مېنه پښین وو او له هغه ځایه کندهار ته راغلی وو. زیارت ئې د ارغنداو د مزرې کلي پر برابري د غره خواته د لویې ویالې پر غاړه دئ.

## سید محسن اغا (رح):

سید محسن اغا د سید عبدالرحیم اغا زوی د سید عبدالحمید اغا لمسی د سید ابدال اغا کړوسی دئ. د سید ابدال اغا په باب مو لنډه شرحه دمخه راوړې ده.
سید محسن اغا د خپل وخت مشهور ادیب او وتلی منشي وو. په پښتو او فارسي ئې استادانه لیکني کولې. شعر ئې وایه او په دیني علومو کې ئې هم مهارت درلود.
سید محسن اغا د سراج الاخبار قلمي همکار وو. دغه راز ئې په طلوع افغان کې هم لیکني خپرېدلې. ده د ۱۳۲۲هـ ق کال د لومړی خور پر اوله د خپل ځان په باب داسې ویلي دي:

**قندهار مې سکونت دئ** — **په ښایست لکه جنت دئ**
**زموږ کسب د علوم دئ** — **چې د کل افغان مفهوم دئ**
**اصلي ځای مو دئ له پښینه** — **ای زما وروره مؤمنه**
**ابن عم مې ضیاء الدین دئ** — **بل هم شاه آقا تعین دئ**
**په کابل کې ساکنان دي** — **د خپلوانو پټ پنهان دي**
**دوی هوری شوه زه دلې شوم** — **هم بېکس پلې پلې شوم**
**نه مې دوست نه مې اشنای شته** — **نه مې یو عزیز پر ځای شته (۱۳۹)**

د سراج الاخبار د شپږم کال په پنځمه گڼه کې د محمود طرزي د یوه یادښت له مخې سید محسن اغا په کندهار کې د" مدرسهٔ حفاظ" مدیر وو . دغه وخت د ۱۹۱۷ع کال سره برابر دئ او د امیر حبیب الله خان سراج الملة والدین د پاچهی اووه لسم کال کېږي.د نورو رسمي وظیفو په باب ئې زموږ سره معلومات نسته.(۱۴۰)
د سید محسن اغا د زېږېدو نېټه په دقیق ډول چا لیکلې نه ده ، خو د مزار پر شنخته ئې عمر ۵۵ کاله ښل سوی دئ او وفات ئې د طلوع افغان له لیکني سره سم د ۱۳۰۱ش کال د جوزا پر ۱۴مه د دوشنبه په ورځ ښېښ سوی دئ(۱۴۱)چې په دې حساب ئې د زېږېدلو کال ۱۲۴۶ش = ۱۸۶۷ع راځي. دا کال د امیر شیرعلیخان د دوهم وار پاچا کېدلو ته نژدې میاشتې بللای سو.
د میر محسن اغا جنازه د ده د وفات په دا سبا یعني د جوزا پر ۱۵مه د کندهار ښار د مخابراتو ریاست ختیځ ته پخپله پلرنۍ هدیره کې چې اوس دده په نامه مشهوره ده، ښخ سو. پر قبر ئې شنخته ولاړه ده چې دده د خور په همت پر درول سوې ده. دا مطلب ئې د مزار پر لوحه داسې کښل سوی دئ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**پس از رحلت و دفن عالیجناب**
**باتمام و تائید عصمت مآب**

**همین مرقد و لوح و سنگش نکو**
**نکو خواهرش ساخته بهر او**

د شنختي نور عبارت ئې "د کندهار زیارتونه" له ۱۳۰ مخ څخه رانقلوو:

**پنج و پنجاه عمر او بگذشت از دار فنا**
**خلق عالم کرد اشک از رحلتش ایثار حیف**

**هجرت سالش هزا و سه صد هجری بدان**
**در چهل یک دادِ جان کرد از جهان رفتار حیف**

**مغفرت خواهان اگر روزی بخاکش بگذرند**
**با دعا گوئید ای اخوان برادر وار حیف**

د سید محسن اغا په آثارو کې موږ ته درې اثره معلوم دي:

۱ـ مزارات: دا اثر ئې په پښتو نظم په لنډ بحر کې مثنوي دئ چې د پنځلسو تنو ساداتو حال پکښې بیان سوی دئ. دا اثر د ښاغلي مطیع الله روهیال له سریزې، پرتلې، سمون، لمنلیکونو او تعلیقات سره پ ۱۳۹۹ش کال دعلامه رشاد خیرندویې ټولنې له خوا چاپ سوی دئ.

۲ـ قواعد نظام: دا اثر د عسکري قواعدو او بولیو بیان دئ چې په پښتو نظم ئې کښلی دئ. په سر کې ئې د اعلیحضرت غازي امان الله مدح هم لیکلې ده.

۳ـ گلدستهٔ معانی: د پښتنو د نسب او ژبې په باب لنډ معلومات لري او په حقیقت کې د پښتو د زده کړې یو رهنما ده. وایي دا کتاب ئې د امیر عبدالرحمن خان په امر د شهزاده حبیب الله خان د پښتو زده کړې له پاره کښلی وو (۱۴۲).

د سید محسن اغا څو پښتو شعرونه هم په سراج الاخبار او طلوع افغان کې خپاره سوي دي.

مرحوم عزیزالدین وکیلي پوپلزي په " سلطنت شاه امان الله" لومړي ټوک ۵۳۱ مخ کې دسید محسن د وفات تر نامه لاندې کښلي دي:

"... موصوف شخص عالم و فاضل و در بهار سال ۱۲۹۸ش بهمراه شخصیت های بزرگ قندهار به دارالسلطنهٔ کابل بحضور اعلیحضرت امان الله شاه رسیده و در مسئله استرداد استقلال و مرام های بزرگ دولت امانیه ابراز عقیدت کرده...

موصوف به خوشنویسی نیز دستی داشته و قطعه خطی که در بهار سال ۱۲۹۸ش از قلم خود بحضور اعلیحضرت امان الله شاه از طرف علماء و خوانین قندهار اهداء نموده بود نویسند مؤلف این کتاب در سال ۱۳۵۶ش در کتاب خزینهٔ الاشراف طبع کرده ام".

د خرقې مبارکې په زیارت کې دننه چې د امیر حبیب الله خان ( سراج الملة والدین) له خوا کوم فرمان په دېوال کې حک سوی دئ، متن ئې د سید محسن اغا په قلم لیکل سوی دئ. ده له صوفي عبدالحمید بارکزي (۱۴۳) او شیخ محمد رضا خان کابلي سره یوځای د کندهار د تاریخي آبداتو په معرفي کولو، د تاریخي کتیبو په لوستلو او نویو ودانیو ته د کتیبو په لیکلو او خطاطي کولو کې لوی لاس درلود. (۱۴۴)

د کندهار ښار په څلرمه ناحیه کې د بامیزو کوڅې  هغه برخه چې د سید محسن اغا کور پکښې وو، دده په نامه یادېدله.  په دغه کوڅه کې دده په نامه مسجد تر اوسه ( ۱۳۹۹ش) لا هم سته چې بیان ئې د سید ابدال اغا په پېژندنه کې راغلی دئ.

د سید محسن اغا په کور کې هر کال په سروري چارشنبې عمومي خیرات کېدی او دېگچه ئې پخوله. دې خیرات ته د ښار ټول خلک بې له توپیره ورتلل او خپل مرادونه ئې ځني اخیستل. د دېگچې خیرات دغه دود ( عنعنه) دده تر وفات وروسته هم کلونه کلونه جاري وه او زما (م. هوتک) د زلمیتوب تر وخته لا هم دوام درلود.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



د میر محسن اغا د خطاطۍ نمونه

**د دولسمي برخي لمنليکونه:**

۱۲۲ ــ د کندهار زیارتونه ــ ۱۱۹مخ
۱۲۳ــ دا ډېره ګران اسدالله ارماني زما په غوښتنه د ۱۳۹۹ش کال د عقرب پر ۲۳مه ولوستله  او نقل ئي ماته له کندهاره کانادا ته راولېږه. تش ځایونه ئي ده ونسو کولای ولولي( م.هـ)
۱۲۴ــ وګ : د کندهار زیارتونه ، ۱۱۹ مخ
۱۲۵ــ د کندهار مشاهیر کتاب ئي د قبر موقعیت د ده خوجي په شمال کي راښیي. دا دواړه موقعیتونه د یوه محل بېلابېله تشریح ده.
دطالبانو هدیره د اوسني ظاهرشاهي کانال ( لو ویالي) شمال ته واقع وه. اوس (۱۳۹۹ش)  دغه سیمه د ښار یوه خورا ګڼه ناحیه ده.
۱۲۶ــ د کندهار مشاهیر ــ ۲۵۰ مخ ( د ۱۳۸۷ش چاپ)
۱۲۷ــ مزارات ۱۲۳ ــ ۱۲۴مخونه
۱۲۸ــ د سید محسن اغا هدیره د شاولي پر غاړه د مخابراتو ریاست ختیځ ته واقع ده.
۱۲۹ــ د کندهار زیارتونه ۱۲۸مخ
۱۳۰ــ د فرمان په متن پوري اړوند لمنلیکونه د علامه حبیبي په قلم لیکل سوي دي.
۱۳۱ــ د څلورکونجه مهر پر سر باندي د تاج په ډول یو شکل نزدې سته او د هغه په منځ کي په ښکلي نستعلیق خط " هوالغالب" لیکل سوی دئ.
۱۳۲ــ د شاهي نوم او القاب د مهر د کیندلو له کال ۱۲۸۹ قمري سره په ښکلي نسبتاً جلي نستعلیق خط دي چي امیر شیرعلیخان ئي په پاسنی کرښه، بهادر ئي په منځنۍ او ابوالفتح معین الدین ۱۲۸۹ ئي په لاندنی کرښه کي دي.
۱۳۳ــ دغه فتح محمد خان د وزیر اکبر خان زوی او د امیر شیرعلیخان وراره دئ چي په کندهار کي نائب الحکومه او یو څه وخت د کلات حاکم هم وو.
۱۳۴ــ لوی تول مختار د صدراعظم پینتولقب وو چي د لوی پر ځای ئي  په لنډ ډول (لو) لیکلی دئ او د تول املاء هم د اوس په شان نه ده، د(ت) پر سر ئي کوچنی (ط) کښلي ده او د مهر د کیندلو کال ۱۲۹۰ قمري دئ او د لوی تول مختار معنی (کل مختار بزرګ) ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱۳۵ـ مستوفی الممالک غالباً حبیب الله خان وردک وو چي په کابینه کي د مالیي وزیر پر ځای کار کاوه.
۱۳۶ـ لوکشل (سرمنشی)د دبیرالملک په شان پښتو لقب دئ. کښل په پښتوکي لیکل او انشاء ته وایي. دبیرالملک د کابیني جزء وو.
۱۳۷ـ دا مُهر روښانه نه دئ او نه لوستل کېږي. په غالب گومان محمد یاقوت ښکاري .
۱۳۸ـ د سید برت نیکه نوم په " تذکرهٔ صوفیای بلوچستان" صـ ۴۷ کي " سید برات بابا کښلی دئ او زیاته کړې ئي ده چي جیّد عالم او صوفي وو. مزار ئي په قلعهٔ عبدالله کي واقع دئ. سید برت نیکه یوه مدرسه تاسیس کړې وه چي وایي تر اوسه هم فعاله ده. مشهور سید اختر اغا د همدغه سید برت نیکه زوی وو.
۱۳۹ـ مزارات ـ ۱۳۱، ۱۳۲ مخونه
۱۴۰ـ دغه مدرسه د" دارالحفاظ" په نامه یادېدله چي د کندلخان جامع ( موی مبارک) په حجرو کي د امیر حبیب الله خان په پاچهي کي هغه وخت چي د کندهار نائب الحکومه سردار محمد عثمان خان وو،تاسیس سوې وه او لومړی مدرس قاري ئي یو بخارایي وو چي په " قاري مصري" سره ئي شهرت درلود. د کندهار ځیني مشهور حافظان لکه نوراحمد اخندزاده،حافظ شاهجهان، حافظ اغا محمد، حافظ ملا داداالله او صوفي عبدالغني کتابفروش ددغي مدرسي شاگردان ول. ددغي مدرسي د تمویل چاري د پوښلي چارسو د دوکانو له عایداتو څخه سرته رسېدلې. (وگ : د لیکونکي اثر، احمدشاهي کندهار، دوهم ټوک ۶۱، ۶۲ مخونه، چاپ ۱۳۸۶ش)
۱۴۱ـ دغه نېټه ۱۳۴۰هـ ق کال د شوال له نهمي او د ۱۹۲۲ع کال د جون له پنځمي سره برابره ده.
۱۴۲ـ مزارات ـ ۱۴، ۱۵ مخونه
۱۴۳ـ صوفي عبدالحمید بارکزی د نصرالله خان بارکزي زوی په ۱۳۰۵ هـ ق د کندهار په چارکوڅه کي زیږېدلی او په وړکتوب کي هرات ته کډه سوی وو. پر علم او پوهي سربېره ئي په خطاطی او میناتوری کي هم لوی لاس درلود. په خطاطی کي د " استاد عبدل هروي" شاگرد وو. صوفي د ۱۳۴۱ش کال د سرطان پر ځلرمه په کابل کي وفات او په قول آبچکان کي ښخ دئ. ( وگ : معاصرین سخنور ۲۵۹مخ، د کندهار مشاهیر۲۳۴، ۲۳۵ مخونه، تاریخ خرقه شریفه قندهار ۱۱۱مخ).
۱۴۴ـ وگ : د لیکونکي اثر، احمدشاهي کندهار، ۲/ ۱۴۵، ۱۴۶ مخونه ـ چاپ ۱۳۹۱ش

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ